

## د لوړو او سپیڅلو آرمانونو هوډمن،نوښتګر، مخکښ او مبارز شاعر

## او لیکوال ښاغلي صدیق کاوون توفاني سره مرکه

مرکه کوونکی: انجنیر عبدالقادر مسعود،

یو ستر پوخ او واقعي لیکوال هغه څوک دی، چې لوړه انساني عاطفه اودبشر پالنې احساس ولري، او دلوی اوهدفمندانسان په توګه دلوړوآرمانونوخاوند وي،قوي اراده، لوړ همت او نیکې هیلې ولري ، پرخپله ژبه واکمن وي او دخپلې ژبې دپرمختګ اوودی په لاره کې کارنده اورغنده برخه واخلي،په خپله لیکنه کې د ډیر لوی صداقت او صمیمیت ښکارندوی وي، روښانه نړی لیداو اندیشه ولري اودخلکو د عقیدی دآزادۍ لپاره مبارزه وکړي، د پاک او سپیڅلي قلم خاوند وي اودقلم عفت او حیثیت وساتي، د آزادۍ، عدالت ، انصاف او صداقت اوحقیقت اودطبیعي اوټولنیزوحقوقو پلوی وي، د استبداد، ظلم او اجتماعي ناخوالواو دټولنې د بدو پدیدوسره نه پخلاکیدونکی وي، دژړیدلو اوکړیدلو خلکودردونواو روحي رنځونو ته ځانګړې پاملرنه وکړي، هغه ظلمونه اواستبداد، چې په خلکو کیږي وغندي اوټولنې ته یې په ډاګه کړي، د هیواد او هیوادوالو سره او دانسان او انساني کرامت

سره ژوره مینه اوخواخوږي ولري، دخلکو دسوکالۍ او ددموکراسی اوآزادۍ لپاره مبارزه وکړي، د ظلم، ستم اوتیولنیزو ناخوالو سره اوظالمو حکومتونودناروا کارونو سره نه پخلاکیدونکې وي، د یوزړه سواندي انسان په توګه دشهیدانواو یتیمانواو خوارانو سره وژاړي او اوښکې تويي کړي او د دوی د غمجنو حالاتو سره غمجن او دردمن وي . لنډه دا چې متواضع،بې کبره او د لوړو انساني اهدافواوصفاتوخاوند وي.

له نیکه مرغه زموږ زیاتره لیکوالانو، ژورنالیستانو، ادیبانو، شاعرانواوڅیړونکو ددغوپورتنیو ځرګندونوپه پام کې نیولو سره په خپلو آثارواولیکنو کې خپل قلمونه اوچت ساتلي دي او خپل غږونه او فریادونه يې پورته کړي دي .

له دغو لیکوالانواو شاعرانو له ډلې څخه یو هم ښاغلی صدیق کاوون توفاني دی، چې زموږ دهیوادپه ادبي، فرهنګي اوسیاسي ډګر کې یوپیاوړي، وتلې او پیژندل شوې شاعر، ادبي، فرهنګي او سیاسي شخصیت دی . دی دپښتو او دري ژبو دهغو

نوښتګرو،مخکښواونامتو لیکوالانو او شاعرانو څخه دی، چې دده په آثارو او شعرونو کې ډیر لوړ علمي مفاهیم،انساني ،اجتماعي ، ملي او ادبي تصورات اوافکار په ډیره خوږه ،سلیسه، ساده او روانه ژبه بیان شوي دي.د ده په شعرونو کې  هنري ښکلا،خیالونه،سمبولونه، تصویرونه او انځورونه ،تشبیهات ، کنایات، پاک او سپیڅلي احساسات، جذبات او عواطف په ډیر رنګین اوظریفانه شکل ترسیم شوي دي .

ښاغلي محمد اکبر کرګرچې زموږ دهیوادیو پیژندل شوې، مخکښ او تکړه لیکوال اوڅیړونکې دی،ده په خپلولیکنو کې دکاوون صاحب اودیو شمیرنورو لیکوالانو اوشاعرانو دشعرونو په هکله  علمي او ادبي تحقیقات او څیړنې کړې دي چې د قدر او ستاینې وړ دي .کرګرصاحب په خپله یوه لیکنه کې دکاوون صاحب دادبي شخصیت او د شعرونو په هکله داسې وایي :

(کاوون هنرمند اوشاعر دی، خو دزمان په ایرو او ګردونوکې پټ هغه دی. دی دشاعر زړه لري او دشاعرزړه يې په ټټر کې توپونه وهي . سره له دې چې دعقل او پوهې  اوعلم لیوال دی، خو په ماهیت کې داسې نه ده . هغه په ټولو چلندونواو برخوردونوکې صادق او رښتینی دی . لکه شعر داسې رښتینې دی ،لکه شعر داسې سپېڅلی اوشفاف یا روڼ دی، لکه دشاعر احساسات اوعواطف او لکه د کوچني ماشوم زړه او اوښکه داسې معصوم دی .

د فورم له مخې یا دفورمالیزم له مخې دکاوون شعر د پښتو د اوسني ادبي بهیر د غرونوپه سرونو کې انعکاس کوي او له هغه ځایه اوریدل کیږي . کله چې هغه عاشقانه شعر وایي

هغه د عشق له زور او قوت نه د خپل پیام له پاره کار اخلي . د هغه عاشقانه شعر په رښتیني توګه ځانګړې محتوی او بیل مضمون لري . شاعر په دې ډول فورم کې د زړه له تله په ټولو حواسو او ټول ځواک سره موضوع ته عشق وربخښي، ساه ورکوي او احساس په کې راپاروي.)

په رښتیا سره چې کاوون صاحب د پښتو ادب په ډګر کې دیولوړ شاعر په توګه ډیر با ارزښته او دروند مقام لري . دی د سیاست پوهنی، ټولنیز پوهنی، اولس پوهنی اوادب پوهنی له معیارونوسره آشنا دی، دی له خپل هیواداو وطنوالو سره کلکه مینه او خواخوږي لري . کاوون صاحب یو متفکر انسان او د لوړواوانساني اهدافو، اوصافواو خصایلوخاوند شخصیت دی ، ده زموږ دهیوادپه ادبي، فرهنګي، اجتماعي اوسیاسي چارو کې په پر له پسی هڅو سره له پاکی،تقوا، اخلاص او صداقت سره خپلی خاوری ته، خپل اولس ته اوخپلی ژبې ته په عمل کې ارزښتناکه کارونه او فعالیتونه کړي دي.

د ده چاپ شوي آثار دا دي :

* **سپرغۍ :** دشعرونو ټولګه، چې په (۱۳۶۲) کال کې په کابل کې چاپ شوې ده .

* **د تیرو په ذهن کې :** دشعرونو ټولګه، چې په (۱۳۶۳) کال کې په کابل کې چاپ شوې ده .

* **شګې او ګلونه :** دشعرونو ټولګه، چې په (۱۳۶۶) کال کې په کابل کې چاپ شوې ده .

* **وروستی ټکی :** دشعرونو ټولګه، چې په (۱۳۶۷) کال کې په کابل کې چاپ شوې ده .

* **کله چې ونې مري :** دشعرونو ټولګه، چې په (۱۳۷۰) کال کې په کابل کې چاپ شوې ده .

* **دباد په کنډوالو کې :** دشعرونو ټولګه، چې په (۱۳۸۱) کال کې په پیښورکې چاپ شوې ده .

د ده آثار، ادبي او فرهنګي، سیاسي او اجتماعي شخصیت زموږ په ټولنه کې دقدر او ستاینی وړ دی .

د کاوون صاحب دپوره پیژندګلوی لپاره، ما د ده سره یوه مرکه نیولې ده چې د تاسو ادب دوستانواو د شعر مینانوپام ورته راګرځوم .

کاوون صاحب اجازه راکړی خپل سلامونه او نیکي هیلي د تاسودرنه حضور ته وړاندی کړم، او خپلی پوښتنی پیل کړم :

**پوښتنه: تاسو څه وخت په شعر ویلو پیل وکړ، او څه رنګه مو خپل استعداد ته پام شو؟**

**ځواب: ډېر کلونه پخوا، هغه مهال چې زه لا کوچنی هلک او د لومړنی ښوونځی زده کوونکی** وم،له شعر او شاعری سره مې مینه درلوده. کله ناکله به مې یو نیم نظم یا نظم ډوله څه ولیکل او له ځانه سره به مې بیا بیالوستل اوخوند مې ترې اخیست .خو یوه ورځ مې په کور کې دننه یوه لرګین صندوق ته پام شو. صندوق مې پرانیست ومې لیدل چې له کتابونو ډک دی .کتابونه مې یو یو له صندوق څخه راوایستل او ومې کتل .په هغه صندوق کې ډول ډول کتابونه وو، لکه د رحمان بابا دیوان ، د خوشالخان خټک بازنامه ، سکندر نامه ، بهاردانش ، مراسلات ، چهار درویش او ځنې نور . د رحمان بابا دیوان مې ترې راواخیست او نور کتابونه مې بېرته په صندوق کې کېښودل .له هغه وروسته نو بیا زه وم او د رحمان بابا دیوان آن تر دې چې د شپې به مې د رحمان بابا دیوان تر بالښت لاندې و . ددې تر څنګ باید یادونه وکړم چې په هغو کلونو کې مې ننګرهار ورځپاڼه او ننګرهار مجله هم لوستله . زما تره چې هغه مهال د لغمان د روښان لیسې زده کوونکی و د ننګرهار ورځپاڼې او ننګرهار مجلې ګډونوال و . کله به چې دغه خپرونې زما لاس ته راغلې، په ډېره خوشالۍ به مې لوستلې خو باید ووایم چې په لومړي سرکې مې نورو لیکنو سره علاقه نه درلوده ، یوازې شعرونه به مې لوستل . زه له همدې لارې هغه مهال د ښاغلیو نصرالله حافظ ، قتیل خوږیاني ،اروابناد شهید سېلاب صافي ،اروابناد سید محمد طاهر بینا ، غلام دستګیر ړنګ او نورو له نومونو او شعرونو سره آشنا شوم او ډېر څه مې ترې زده کړل چې د هغو هر یو یې پر ما د استادۍ حق لري .

پدې ډول و چې دشعر «سیاه مشق » مې پیل کړ او تر اوسه په دغه «سیاه مشق » اخته یم.

**پوښتنه: مهرباني وکړئ ووایاست تاسو هر وخت چې وغواړئ شعر لیکلای شئ؛او که په ځانګړو حالاتو کې باید شعر ولیکئ؟**

**ځواب:** نه ، زه هر وخت شعر نشم لیکلای . شعر د یوه ځانګړي حالت زېږنده دی ، او تر څو پورې چې دغه ځانګړی حالت حضور ونه لري ، د شعر لیکل ناشوني دي . داسې نشي کېدای چې سړی دې د شپې تصمیم ونیسي چې سبا سهار د سبایی تر چایو وروسته د مېز تر شاو یا پر کومه پوله کښېنم او شعر لیکم .او همدا راز سړی نشي کولای مخکې له مخکې دځان لپاره د شعر ډول او چوکاټ وټاکي ، کله چې شعر راغی ځان ته پخپله خپل ډول او چوکاټ ټاکي او شاعر مجبور دی چې په هماغه چوکاټ کې خپل احساسات بیان کړي . ځنې دوستان عقیده لري چې که شعر په تا پسې نه راځي ، ته پخپله په شعر پسې ورشه . خو زه دا

کار نشم کولای ،که شعر په ماپسي را نشي که کلونه هم تېر شي زه په شعر پسې نه ورځم او دشعر دروازه نه ټکوم .

مخکې مې د شعر ليکلو لپاره د يوه ځانګړي حالت يادونه وکړه . دغه ځانګړی حالت هماغه څه دی چې ځنې خلک يې الهام هم بولي . الهام څه شی دی؟سور ريالیستانو عقيده درلوده چې الهام د ژبې په عرصه کې د روح ناڅاپي چاودنه ده. افلاتون شعري خلاقيت له بشري روح څخه بهر يانې د شعر په الهي پورې اړوند باله او ويل يې چې دا دشعر الاهه ده چې شاعر ته وايي چې وليکه او د شعر الاهه يو مافوق بشري پديده ده. خو اوسني فيلسوفان ، ارواپېژندونکي او د شعر منتقدين لدې نظر سره توافق نلري او وايي چې الهام يوه روحي بشري پديده ده چې پخپله د شاعر په دننه کې شتون لري . آرتور رمبو ويل چې « زه » بل څوک دی . يانې دا چې شاعر د شعر ويلو په وخت کې خپل « زه » له لاسه ورکوي او له خپل شخصيت څخه بهر راوځي او په « بل چا » بدليږي . مانا دا چې کله چې شاعر له کومې روحي ناڅاپي پېښې سره مخامخ کيږي او دغه پېښه د هغه روحي او احساسي حالت ته ټکان ورکوي او هغه د شعر ويلو ته رابولي . خو لوتره آمون چې د رمبو هم عصره و عقيده درلوده چې که « زه » شتون لرم نو زه پخپله يم او په هېڅ حالت کې په بل چا نه اوړم بلکې غواړم له خپله « ځانه » پرته بهرنۍ نړۍ او هر څه چې زماپه شاوخوا کې وجود لري هېراوځان په خپله روحي نړۍ کې ډوب کړم .

ژاک ماريتن عقيده درلوده چې شاعر د الهام په حالت کې د خپل روح مرکز ته ستنيږي ، له بهرنۍ نړۍ سره خپلې اړيکې شلوي او له خپل ځان او خپلې اروا سره يوازې کيږي،نو هلته ده چې د شعر په ويلو پيل کوي .

ستر فلسطيني شاعر نزار قباني باور درلود چې شعر يوه ناخودآګاه او الهامي پديده ده چې شاعر ته د ليکلو توان ورکوي . قباني په خپل يوه شعر کې دغې نکتې ته دا ډول اشاره کوي :
« ... شعر يو شين څراغ دی چې د خدای ګوتو زموږپه دننه کې ځړولی دی » .

لکه چې و مو ليدل ، د شعر د هستونې لپاره، « الهام »يو بنسټيز ضرورت دی او له الهامه پرته ليکنې د تصنع رنګ خپلوي او له صميميته وزي . هغه ليکنې به هر څه وي خو شعر ورته نشو ويلای .

البته د الهام لپاره د شاعر له روح څخه بهر مادي او فيزيکي حالاتو او شرايطو ته هم اړتيا شته . ددغو ټولوروحي او مادي پديدو د يو ځای کېدوپه نتيجه کې پر شاعر الهام کيږي چې شعر وليکي . کېدای شي چې شاعر د يوه خبر په اورېدلو ، د يوې حادثې پر پېښدلو ، د يو

چا یا یو څه په لیدلو، دیو چاړیوڅه اویویې خاطرې په بیا رایادېدلو ... له دغسې یو حالت سره مخامخ شي او په دننه کې یې «شین څراغ » و لګیږي .

پوښتنه: د تاسو په اند زموږ لیکوالانو او شاعرانو زیاتره شعر ته پاملرنه کړې ده او که نثر ته ؟ تاسو په پښتو ادبیاتو کې نثر څه ډول څېړی؟

ځواب: پښتو ادبیات عمدتن شعري ادبیات دي . هغومره چې زموږ شعر رنګین ، هراړخیز او شتمن دی ، نژدې په همغه کچه زموږ نثر ، په ځانګړي ډول هنري نثر د ځومره والي او څرنګوالي له پلوه خوار او کمرنګه دی .

راځه خبره به په بل ډول لږ وڅېړو. زموږ د هېواد نومیالی لیکوال او څېړونکی ښاغلی زلمی هېوادمل په خپل اثر « دپښتو ادبیاتو تاریخ »کې پښتو ادبیات په دریوادبي دورو وېشي :

لومړۍ دوره ، چې له دوهمې لېږدیزې پېړۍ څخه پیلېږي او تر یوولسمې لېږدیزې پېړۍ پورې دوام مومي .په دغه دوره کې د دوو نثري آثارو یادونه کیږي . لومړی یې د سالو وړمه ده چې د پټې خزانې په قول د ابومحمدهاشم ابن الزیدالسرواني په قلم په پښتو لیکل شوی دی ، خو له بده مرغه دغه اثر اوس په واک کې نشته . او دوهم یې تذکرةالاولیا د سلیمان ماکو اثر دي چې د پښتنو ویناوالو آثار او احوال یې پکې راټول کړي او یوازې څو پاڼې یې د علامه استاد عبدالحی حبیبي د کار او زیار په نتیجه کې لاس ته راغلي دي .

د پښتو ادبیاتو په دغه دوره کې نور پاتې ، ټول شعري او نظمي آثار دي او د نثري لیکنو پته نه لګیږي .

دوهمه ادبي دوره د لسمې لېږدیزې پېړۍ له نیمایي څخه پیلیږي او د څوارلسمې پېړۍ د پیل تر دوو ، دریو لسیزو پورې دوام کوي .په دغه ادبي دوره کې ده چې پښتو نثر ورو ورو پراختیا مومي او زیات شمېر نثري آثار هستول کیږي . پښتو نثر د موضوع او مضمون له پلوه بډاینه مومي اود شکل په لحاظ هم رنګارنګي پیدا کوي . ژبه یې صیقلیږي ،ساده کیږي او رواني مومي .

په همدغه دوره کې ده چې د هنري نثر لیکنې ته لاره پرانیستل کیږي .

دریمه دوره یا د پښتو ادبیاتو اوسنۍ دوره د شلمې عیسوي پېړۍ له لومړیو لسیزو څخه پیلیږي او دادی په پوره زور دوام لري . په معاصره دوره کې موږ په تولیز ډول د پښتو نثر او هنري نثر د غوړېدنې او بډاینې شاهدان یو . اوس اوس موږ په پښتو کې د یو زیات شمېر

مستقلو نثري آثارو لوستونکي يو چې په وروستيو درې څلورو لسيزو کې کښل شوي او خپاره شوي دي .

اوس زموږ د يو شمېر ليکوالو او شاعرانو په مټ د نړ يوالو ادبياتو څنې په زړه پورې آثار هم په پښتو ژباړل شوي دي چې زموږ د ادبياتو له رنګينۍ او ښداينې سره مرسته کوي .

خو که پوښتنه داسې مطرح شي چې شعر که نثر؟ او آيا رښتيا هم د شعر عمر پای ته رسېدلی اواوس دنثر وخت دی ؟ زموږ شاعران بايدشعرپرېږدي اونثر ته مخه کړي ! نو بيا زما ځواب بل ډول دی . زه وايم راځئ دا هر څه خپل طبيعي بهير ته پرېږدو .

ددې پر ځای چې د شعر پر ضد کمپاين وکړو ، د نثر د ليکلو پر ضرورت تاکيد وکړو . زه دا سمه نه بولم چې ووايو شعر بند او نثر پيل . موږ په هغه اندازه چې نثر ته او ښه نثر ته اړتيا لرو ، په همغه کچه شعر ته او ښه شعر ته ضرورت لرو . که څوک د شعر ليکلو استعداد لري شعر دې وليکي او که څوک د نثر د ليکلو استعداد او مهارت ولري نثر ته دې مخه کړي او که څوک شعر او نثر دواړه ليکلای شي نو بيا دې شعر او نثر دواړه وليکي ، زه پدې برخه کې کومه ستونزه نه وينم .

زه لازمه نه بولم چې چاته دې وويل شي چې نور شعر مه ليکه او پرځای يې نثر وليکه او که چاته وويل هم شي باور نه کوم چې شاعر دې له شعره لاس پرسر شي او له يوې مخې دې نثر ته مخ واړوي .مثلن تر کومه ځايه چې زه د پښتو ژبې وتلی او خوږژبی شاعر ښاغلی پيرمحمد کاروان پېژنم شعر لکه وينه د هغه په رګونو کې چليږي او آن خدای هم په شعر يادوي . « شاعران يو په نغمو يادوو خدای » نو اوس ته راځه او ورته وايه چې کاروان صيب نور نو شعر مه ليکه او يوازې نثر ته مخه کړه . زه فکر نه کوم چې هغه دې دې ډول خبرو ته اهميت هم ورکړي . دلته بايد زياته کړم چې ښاغلی کاروان په نثر ليکلو کې هم د ښه قلم خاوند دی .

پوښتنه : تاسو شعر څه ډول تعريفوی او په شعر کې حماسه څه ډول څېړی ؟

ځواب: زه فکر کوم تاسو دوه بېلې بېلې پوښتنې چې هره يوه يې اوږده او پراخ بحث ته اړتيا لري يو ځای مطرح کړي دي .زه به کوښښ وکړم د خپل توان په حدودو کې هغو ته ځواب ووايم . لومړی د شعر د تعريف خبره . که رښتيا ووايم زه د شعر له تعريفولو سره جوړ نه يم . زما په اند شعر يوه داسې پديده ده چې تل د تغيير او تکامل په حال کې ده . موږ نه شو کولای يوه پديده چې په پرله پسې ډول خپل شکل او منځپاګې ته تغيير ورکوي په يوه معين چوکاټ کې بنده کړو او حدود او ثغور ورته وټاکو . يو وخت هر موزون او مقفی کلام

شعر بلل کېده او اوس ویل کیږي چې شعر په آهنګ لرونکي لنډ ژبني بیان کې د فکر او تخیل عاطفي غوټه کېدل دي . ارسطو شعر د طبیعت تقلید یا تمثیل باله او افلاطون په شعر کې پر تخیل تاکید کاوه او ویل یې چې شاعر دوه ځله له حقیقت څخه لیرې کیږي . شمس قیس رازي عقیده درلوده چې شعر یو سنجول شوی ، مرتب ، معنوي ، موزون ، متکرر او متساوي کلام دی چې وروستي توري یې یو بل ته ورته وي یاني واحده قافیه ولري . اروابناد محمد صدیق روهي په خپل اثر « شعر پېژندنه » کې د ترکي نامتو شاعر ناظم حکمت له خولې لیکي چې : « شعر هغه خوش آوازه مرغۍ ته ورته دی چې باید غوږ ورته ونیول شي او له آواز څخه یې خوند واخیستل شي . هغه کسان چې غواړي شعر تعریف او تحلیل کړي په واقعیت کې د مرغۍ له غوښو سره علاقه لري نه د هغې له آواز سره » . خو راځه چې د شاعرانو د خان ، د پښتو د ستر سنت ماتوونکي شاعر عبدالغني خان غني تعریف وګورو . غني خان د شعر ښکلي او نازکه مرغۍ د تعریف په وسپنیز لنډ تنګ قفس کې نه بندوي بلکې هغې ته د الوتلوپراخه فضا برابروي .غني خان وایي :

**لړ خیال کړه ، لړ تال کړه ، لړ شان د جانان**

**لړ رنګ کړه ، غورځنګ کړه ، یو آه د ارمان**

**لړ نور کړه ، لړ نار کړه ، لړ سوز کړه ، لړ ساز**

**لړ یار د سپوږمۍ شه ، دستورو همراز**

**لړ ګوټ د کعبې کې ،لړ ګل د شېراز**

**لړ باغ ، لړ باغچه شه ، لړ تور بیابان**

**لړ خیال کړه ، لړ تال کړه ، لړ شان د جانان**

اسپانوي شاعر فدریکوګارسیالورکا، ددې پوښتنې په ځواب کې چې شعر څه شی دی ؟ داسې ویلي و : شعر هغه څه دی چې پر واټ د تلو راتلو په حال کې دی ، یاني .

هغه څه چې خوځیږي او زموږ تر څنګ پر لاره ځي . هر څه خپل رمزوراز لري او شعر هغه رمزو راز دی چې ټول شیان یې لري . اوږه په اوږه د یوه سړي له څنګه تېرېږي ، یوې ښځې ته ګوري ، د یوه سپي د زیرکانه منډې وهلو په هکله ګومان کوې . ددغو شیانو په هر یوه کې چې انساني جنبه لري شعر پټ دی .

لکه څنګه چې وينو د شعر لپاره د يوه جامع او مانع او زمانشموله او مکانشموله تعريف پيدا کول څه اسانه کار ندي . ښه به وي چې سملاسي په همدومره بسنه وکړو او ددې بحث له دوامه تېر شو .

خو دحماسي په هکله چې ستاسو د پوښتني په دوهمه برخه کي ورته اشاره شوې ده په ډېره لنډه توګه څو خبري کوم: حماسه د زړورتيا او شجاعت په معنا ده اوهغه ډول شعرته ويل کيږي چې داستاني جنبه ولري او د يو قوم ، يو ملت ،او يا يو شخص ملي جذبات ، رزمي احساسات ملي وياړونه اواتلتوب پکې بيان شوی وي . په حماسه کې په عمومي ډول پېښېدونکي حوادث خارق العاده او په ځني مواردو کي تر انساني باوره لوړ دي . د ساري په ډول ، د پخواني يونان د ستر شاعر هومر « ايلياد او اودېسه » يوه تلپاتي حماسه ده ، د ابوالقاسم فردوسي « شاهنامه » يوه حماسه ده .

په پښتو ادبياتو کي هم حماسه اوږد تاريخ لري خو له بده مرغه هغه حماسي چې پښتنو شاعرانو د بې‌لابېلو رزمي ـ تاريخي پېښو تر اغېزې لاندې کښلي دي يا خو د حوادثو توفانونو له ځانه سره وړي او يا نا چاپه دي او د ځنو فرهنګيانو په شخصي کتابتونونو کې د چاپ او خپرېدو د انتظار کلونه تېروي. ښاغلی زلمی هېوادمل« د پښتو ادبياتو تاريخ » کې د نورو تر څنګ د دغو لاندنيو حماسو يادونه کوي :

د صاحب دين ختک « فيروزنامه » چې د فيروزخان ختک او رنجيت سنګه د جګړو بيان لري ، د سپيني حماسه چې پر هرات د پارس د لښکرو د يرغل او زموږ د هراتي وطنوالودمقاومت، دفاع او مېړاني پېښوته ځانګړ ې شوې ده . د اميرعبدالرحمان « شاهنامه » چې احمد ګل کښلې ده ، د دلاور طالب عمرخېل « د مغل خان جنګنامه » چې دافغان ـ انګليس په دوهمه جګړه کې دمغل خان په مشرۍ د افغانانواو انګرېزي لښکروتر منځ د جګړې بيان پکې شوی دی .« احمد شاهي شاهنامه » د پښتوادبياتو يوه تاريخي حماسه ده چې د حافظ ګل محمد مرغزي په قلم ليکل شوې او پر هند باندې د احمدشاه بابا په مشرۍ د افغاني لښکرو د يرغل او د هغوی د رزمي اتلوليو په هکله ده.

خو که ستاسو مقصد حماسي شعرونه وي نو بيا خو ډېر پراخ مفهوم احتوا کوي، پدې معناچې ټول هغه شعرونه چې په هغوکې رزمي او مبارزاتي روحيه منعکسه شوې وي ، حماسي شعرونه دي ، که د شعر په هر ډول کې وي مثلن د ميوند د ډګر داتلې ملالې دا لنډۍ چې وايي:

**که په ميوند کې شهيد نه شوې**

## خدايږو لاليه بې ننګې ته دې ساتينه .

يوه حماسي لنډۍ ده .او هغه شعرونه چې د هېواد د آزادۍ غوښتنې دبېلابېلو جګړو په دوران کې ويل شوي او يا نورو ملي او وطنپالوغورځنګونو ته ځانګړي شوي دي حماسي شعرونه دي چې فکر کوم پدې برخه کې به د نور بحث اړتيا نه وي.

پوښتنه: مهرباني وکړۍ خپل مالومات مو د لنډيو په هکله راسره شريک کړی .

ځواب: پښتو لنډۍ زموږ د شتمن فلکلور يا ولسي ادب يوه ډېره بډايه اومهمه برخه جوړوي او ټول پښتانه ورسره نه يوازې آشنايي لري ، بلکې زده يې هم وي .خو لنډۍ څه شی دي ؟

لنډۍ چې ټپه ، مسرې اوټيکۍ يې هم بولي هغه ښکلي او په زړه پورې دوه مسره ييز شعرونه دي چې لومړۍ مسرۍ يې نه سېلابه او دوهمه يې ديارلس سېلابه ده .

د لنډيو تر ټولو مهمه ځانګړنه د هغو شکلي لنډوالی او د منځپانګې بډاينه او پراخوالي دی ، داسې چې د يوې لنډۍ په همدغه دوه مسريو کې يوه دونيا مانا او مفهوم ځايېږي آن تر دې چې سړی نشي کولای د يوه اوږده شعر په لمنه کې هم هغومره لوی مفهوم راونغاړي . لنډۍ معين ويونکی نه لري او شاعريې زموږ عام ولس دی . زموږ عام ولس : زموږ د هېواد بزګر ، کارګر ،شپون ، کاسب ، ښځه او نارينه . په لنډيو کې د ولس ښادۍ او غمونه ، ماتې او برياوې ، ناهيلۍاواميدونه ، مينه او کرکه او رزمي او بزمي مفاهيم منعکس شوي دي . کله چې موږ يوه اصيله لنډۍ اورو يايې لولو ، سمدستي زموږ په ذهن کې يوه نړۍ مفاهيم ، حالات او حوادث را ژوندي کيږي اولکه يورنګه سينمايي فلم زموږ دذهن پر پرده غوړيږي لنډۍ دپېړيو په اوږدو کې له يوې سينې څخه بلې ته اوله يوه نسل څخه بل ته لېږدول کيږي . پر دغه شتمنه ادبي پانګه د ژوند په هره پوړۍ کې زياتوني کيږي او تازه ساتل کيږي . دغه ادبي مرغلرې په ټولو پښتني سيمو کې په ناليکل شوي يا شفاهي ډول شته چې د نړۍ په نورو ژبو او ولسونو کې يې ساری نه ليدل کيږي .البته د يادولو وړ ده چې په پنجابي ژبه کې د « ماهيا » په نو م او په جاپاني ژبه کې د « هايکو » په نامه لنډيوته ورته لنده کې شعرونه شته چې خپله ښکلا لري خو له لنډيوسره د ډېرو شکلي او ماهوي تفاوتونو لرونکي دي . لکه چې د مخه مې وويل پښتو لنډۍ يا دغه اصيلې مرغلرې په ټول ولس کې تيتې دي او خلکو د خپلو سينو په ارشيفونو کې خوندي ساتلي دي . له نېکه مرغه زموږ پر ولس او ادب مينو ځنو شخصيتونو د ستر زيار په ګاللو يو شمېر لنډۍ له کليو او بانډو څخه را ټولې کړي او د کتابونو په بڼه يې چاپ او خپرې کړي دي چې دلته يوځونومونه يادوم لکه اروابناد عبدالرووف بېنوا،اروابناد محمد ګل نوري اروابنادمحمددين ژواک ،اروابناد مصطفی جهاد،ښاغلي

عبدالکریم پتنګ مېرمن سلما شاهین ... او ځنې نور . ښاغلی سلیمان لایق هم له ډېرو کلونو راهیسې پر ښتو لنډیو کار کوي او د لنډیو د راټولولو تر څنګ د لنډیو پر تحلیل او پېژندنې لیکنې کوي چې ددغې سلسلې ځنې لیکنې یې پخواخپرې شوي دي .

**ستا د ښایست ګلونه ډېر دي** **لمن مې تنګه زه به کوم کوم ټولومه**

پوښتنه: په یوه ټولنه کې چې د عقایدو او فرهنګ سانسور موجود وي ، د تاسو په آند په یو شاعر او لیکوال باندې څه اغېز لري ؟ شاعر او لیکوال څرنګه کولای شي له دې ډول ناخوالو سره مبارزه وکړي ؟

ځواب: دمخه تر دې چې په یوه ټولنه کې د ادبیاتو د هستونې پر بهیر د سانسور د اغیزې په هکله و غږېږو لومړی باید وګورو چې سانسور څه شی دی؟ سانسور د لاتینې

کلمې سینسوس یا سینسیر څخه چې د ارزونې په مانا ده اخیستل شوی او اصطلاحي مفهوم یې د دولت یا ټولنیزو او مذهبي کړیوله لوري پر بېلابېلو سمعي او بصري خپرونو لکه ورځپاڼې ، جریدې ، کتاب ، رادیو۔تلوېزیون ،تیاتر ، انترنت او ...نورو ،نظارت ، کنترول اومراقبت ته ویل کیږي . د پخواني روم په دولتي نظام کې د سانسور مامورینو یو ځانګړی مقام او دریځ درلود .هغه مهال د سانسورچیانو دنده داوه چې د خلکو سرشمېرنه وکړي ، د مالیې کچه وټاکي او د اوسېدونکو اخلاقي کړه وړه وڅاري . خو کله چې په پنځلسمه زېږدې پېړۍ کې د چاپ ماشین اختراع شو او د لیکل شویو آثاروچاپ او خپراوي پراختیا وموندله د سانسور مفهوم هم تغییر وموند او د اغېزې ساحه یې پراخه شوه . لومړی کلیسا او مذهبي اورګانونو د دیني او جنسي مسایلو په برخه کې سانسور ته مخه کړه او ورسره جوخت دکتاتوري اواستبدادي دولتونو هم د ټولنې د نظم د ساتنې او اخلاقي فساد د مخنیوي په پلمه خو په اصل کې د مخالفو غږونو د خاموشه کولو په مقصدسانسور پیل کړ . د سانسور شوم عمل چې له هم هغو پخوا زمانو راهیسې د نړۍ په زیات شمېر هېوادونوکې عملي کیږي ، نړیوال فرهنګ ته ستر زیانونه اړولي دي . د سانسور په نتیجه کې که له یوې خوا د ادبي او فرهنګي آثارو د پراخې هستونې مخه نیول شوې له بله پلوه ډېر ارزښتمن آثار له منځه وړل شوي او سوزول شوي دي.

د سانسور تر ټولو منفي او خطرناکه پایله داده چې شاعر ، لیکوال او هنرمند مجبوروي چې خپل ځان پخپله سانسور کړي ( خود سانسوري ). ددې لپاره چې آثار یې د سانسور له فلتر څخه په آسانۍ تېر شي یا له خپلو یو شمېر اندېښنو او فکرونو څخه تېرېږي او یا هم خپل افکار په داسې پېچلې بڼه مطرح کوي او د پېچلتیا په داسې پردو کې یې نغاړي چې ډېرو

لوستونکو ، اورېدونکو او لیدونکو ته د پوهېدو وړ نه وي او یا خو هم مجبورېږي خپل هېواد پرېږدي او په بهر کې خپل آثار خپاره کړي . سانسور هم د استعدادونو د ودې مخه نیسي او هم نه پرېږدي چې ولس ته لازم اطلاعات ورسیږي . سانسور د بیان د آزادۍ مخالفه پدیده ده چې د« فکر او بیان » د ودې بهیر پڅوي . خو له دې ټولو سره سره باید ووایم چې سانسور او سانسورچیان نشي کولای په بشپړ ډول د ادبي ، هنري او ژورنالیستي آثارو د ایجاداو خپرېدو مخه ونیسي. ډېر ځله داسې پېښ شوي دي کله چې په یوه هېواد کې کوم اثر د سانسور په نتیجه کې له چاپه لوېدلی او یا له چاپه وروسته یې پر وېشل کېدو بندیز لګېدلی و د اثر اهمیت او جذابیت لاهم پسې زیات شوی او لاس په لاس ګرځېدلی دی .یو وخت په پخواني شوروي اتحاد کې د سولژینیتڅین ، بوریس پاسترناک اوځنو نورو لیکوالو او شاعرانو پر آثارو بندیز لګېدلی وو .نتیجه داشوه چې ددغو لیکوالو لوستونکي تر پخوا څو ځلي زیات شول او کتابونه یې بیا بیا په ډېر لوړ تیراژ په بهر کې چاپ او خپاره شول او د شوروی د وخت له وسپنیز کنترول سره سره هغو آثارو په پټه دننه هېواد ته لاره پیدا کړه او دلوستونکو لاس ته ورسېدل . د بوریس پاسترناک د «ډاکټر ژیواګو »کتاب نه یوازې دا چې په روسي ژبه څو څو ځله چاپ او خپور شو بلکې په زیات شمېر نړیوالو ژبو وژباړل شو او فلمونه یې هم جوړ شول . او یا همدا اوس د امریکایي ـ انګلیسي مقاماتو له خوا څخه د ویکي لیکس دانترنیتي پلاتفورم د بنسټ ایښودونکي او چلوونکي ښاغلي جولیان آسانژ تعقیب او زورونه او دهغه د انترنیتي پلاتفورم د بندولو ناکامه هڅې په یوویشتمې پېړۍ کې د سانسور یوزړه بوږنوونکی او کرغېړن ساری کېدلای شي . ویکي لیکس په خپله انترنېټي پاڼه کې د نورو ترڅنګ په افغانستان او عراق کې د غربي هېوادونو،په ځانګړي ډول د امریکاد متحدو ایالتونو له بې شرمانه جنایتونوڅخه پرده پورته کړې ده او دهغودجنایتونوپټ اسنادېې خپاره کړي دي .

پوښتنه: یوشاعر او لیکوال دیو ولس په ویښولو او د ملي احساساتو په راپارولو کې څه رول لري ؟ مهرباني وکړئ په دې هکله په لنډه توګه مالومات راکړئ .

ځواب: شاعر او لیکوال د ملت د ویښ وجدان حیثیت لري .یو رینښتینی شاعر او لیکوال چې خپل رسالت یې په ټولنه کې درک کړی وي ، کولای شي د خپلو شعرونو او لیکنو له لارې د خپل ولس د ویښولوپه چاره کې ستره ونډه واخلي .هغه څه چې شاعر او لیکوال یې د لیدلو توان لري ، عام ولس یې نشي لیدای . دا شاعر او لیکوال دی چې د ملي ناخوالو ، ټولنیزو بې عدالتیو ،ستم او استبداد په وړاندې خپل د اعتراض غږ وچتوي او د خلکو پام ورته رااړوي . بشري تاریخ په نړیواله کچه ډېر داسې شاعران او د قلم خاوندان پېژني چې د خپلو

هېوادونو ولسونه يې د آزادۍ او خپلواکۍ د لاس ته راوړلو او د استبدادي او دکتاتوري نظامونو د راپرزولو لپاره تشويق کړي او يا يې د ټولنيزو ناخوالو د له منځه وړلو لپاره هڅولي دي . برنارد دوفونتنل يو وخت ويلي وو چې « کله داسې شي چې يو سړی په يوازې ځان د يوې پېړۍ چيغه پورته کړي » . هو ، ريښتينی شاعر او ليکوال همدغه سړی دی چې په يوازې ځان د يوې پېړۍ او يو ولس فرياد پورته کوي او د ولسونو د ويښېدلو لامل ګرځي .

پوښتنه :تاسو د ادبي نقد په هکله څه نظر لرئ او زموږ په هېواد کې دادبي نقد وضعيت څه رنګه ارزوئ ؟

ځواب :لکه څنګه چې تاسو پوهېږئ ادبي نقديا کره کتنه د ادبي او هنري آثارو دکره کېدو صيقل کېدو او نګه کېدو په چاره کې ستر رول لري . په يوه ټولنه کې د ادبي کره کتنې نشتوالی يا لږوالی ادب او هنر له رکود اوسکوت سره مخامخ کوي او ورو ورو ابتذال د ابتکار اوخرمرۍ د مرغلرو ځای نيسي .خو دلته بايد ددې خبرې يادونه هم وکړم چې ناروغه او دشخصي منفي يا مثبتو علايقو پر بنسټ ولاړه کره کتنه هم د هنر او ادب سالمې ودې او غوړېدو ته ستر زيانونه اړوي .کره کتونکی د يو اثر د کره کولو او نقد تر څنګ دنده لري چې د اثر ړندې غوټې پرانيزي ، د اثر د هستوونکي روحي او اروايي نړۍ ته لاره خلاصه کړي او بيا اثر تحليل او تفسير کړي . د اثر پر تروږمې کونجونو رڼا واچوي او پټې او پېچلې خواوې يې لوستونکو ته روښانه کړي ، د هغه ادبي او هنري ارزښت وټاکي ، دهغه ضعف او قوت ، ښکلا او بد رنګي راوسپړي او په اصطلاح سره زر له شګو څخه جلا کړي . ادبي کره کتنه يو اثر له مختلفو خواوو څخه څېړي او ارزونه يې کوي . د اثر ريښې او سرچينې لټوي او د اثر د هستوونکي له ذهن ، روح او شخصيت سره داثر اړيکي راسپړي  او د اثر هغه پټې او پېچلې  خواوې چې  کله آن د اثر خاوند ته هم روښانه نه وي ، لوڅوي اوتشريح کوي يې. دادبي کره کتنې  يوه بله مهمه ځانګړنه داده چې  د يوه ادبي او هنري اثر  او دهغه د لوستونکو ، ليدونکو، او اورېدونکو تر منځ پول جوړوي  . کره کتنه مرسته کوي چې لوستونکي ، ليدونکي او اورېدونکي د اثر ټولو پټو او پېچلو زاويو ته پام واړوي ، په ټوله مانا پرې پوه شي ، داثر له سطحې نه د هغه ژورو ته لار پرانيزي او خوند ترې واخلي . همدا راز کره کتنه پخپله د اثر له هستونکي سره هم مرسته کوي  چې د خپل کار په منفي او مثبتو خواوو پوه شي او د خپل ځواک او ضعف ټکي وپېژني .کره کتنه بايد بې پرې او د عربو په اصطلاح له «حب او بغض » څخه تشه وي ، که نه له شتون څخه يې نه شتون ښه دي .

زموږ په هېواد کې متاسفانه دادبي کره کتنې  بهیر ډېر ورو او پڅ دی او یو لامل یې زما په آند د کره کتنې او نقد د ودې او سالمې پراختیا لپاره د لازمو شرایطو نشتوالی دی . تر ټولو د مخه باید ووایم چې له بده مرغه موږ تر اوسه د کره کتنې کلتور نلرو . زموږ په هېواد کې دې که چاته وویل چې د سترګو لپاسه دې وروځې دې، هم درنه خوابدی کیږي . موږ عادت کړی چې حق او ناحقه مو صفت وشي او کره کتنې ته د توصیفنامې په سترګه ګورو .
زموږ ځنې کره کتونکې هم د یو اثر د لیکونکي په هکله مخکې له مخکې خپل قضاوتونه لري او په دغو قضاوتونو کې ډېری وخت د اثر د خاوند سیاسي او ټولنیز شخصیت ته پام اړول کیږي نه د هغه اثر ادبي او هنري ارزښت ته . خو دا پدې مانا نده چې زموږ په هېواد کې د کره کتنې په برخه کې هېڅ کار ندی شوی . زموږ یو
شمېر لیکوالو د کره کتنې په برخه کې له شته ستونزو سره سره  ارزښتمن او لارښودونکي کارونه سرته رسولي دي او د کره کتنې له علمي معیارونو سره سم یې د یو شمېر لیکوالو او شاعرانو شعري او نثري آثار څېړلي او ارزولي دي .
د ساري په ډول کولای شو د اروابناد محمد صدیق روهي ، ښاغلو لطیف بهاند ، زرین انځور ، اکبر کرګر،بریالي باجوړي ... او ځنې نورو نومونه یاد کړو .

پوښتنه : تاسو په اوسنیو شرایطو کې په هېواد کې دننه او بهر زموږ د شاعرانو او لیکوالو فعالیتونه څه ډول ارزوی ؟

ځواب: زه د ۲۰۱۰ کال د می د میاشتې په لومړیو کې ، په کابل کې د آلمان د فرهنګي مرکز ګویته انستیتیوت په بلنه کابل ته تللی وم او هلته مې « د افغانستان د اوسنیو ادبیاتو شپږم جشن » کې ګډون وکړ . که څه هم هېواد کې زما د اوسېدو ورځې لنډې وې ، خو د جشن په ورځو کې مې د یو شمېر پخوانیو فرهنګي یارانو په بیا لیدو سترګې روښانه شوې او په ډېرو خوږو او ترخو موسره خبرې وکړې . ددې تر څنګ د هېواد له یو زیات شمېر ځوانو فرهنګي څېړرو سره آشنا شوم چې زه یې د افغانستان د ادبیاتو راتلونکي ته خورا ډېر امیدواره کړم .  د خوشالۍ خبره داده چې اوس په هېواد کې دننه د شعر او نثرلیکلو په ډګر کې داسې ځوان استعدادونه رامنځ ته شوي چې سرې په جګ غږ ویلای شي چې په راتلونکي کې به بې له شکه زموږ د ادبیاتو بڼ لا شین ، لا ښېرازه او لا سمسور شي . ما هلته داسې شعرونه واورېدل چې سړی کولای شي په ډېره ډاډمنتیا ورته شعر ووایي او د نثر په برخه کې هم له یو شمېر داسې لیکنو او آثارو سره مخامخ شوم چې د وروستۍ لسیزې په بهیر کې کښل شوي او کېدای شي دسیمې په کچه حساب پرې وشي .غواړم دلته یو بل ټکي ته اشاره وکړم او هغه دا چې پخوا موږ په افغانستان کې د لیکوالو ټولنه درلوده چې د هېواد زیات

شمېر ليکوالان او شاعران پکې راټول شوي وو . دغه ټولنه له تبعيض او امتياز پرته د افغانستان د ټولو ليکوالو او شاعرانو يو معتبر مرکز و چې د کلونو په اوږدو کې يې د هېواد ادبي اوکلتوري.

هڅو ته لورى ورکاوه او له ځوانو استعدادونو سره يې د هغو د غوړېدو او سمسورتيا په چاره کې مرسته کوله . د هېواد په بېلابېلو ژبو يې کتابونه خپرول ، په ملي او نړيوالو مناسبتونو يې سيمينارونه جوړول ، نقد غونډې يې دايرولې او د هېواد دکلاسيکو او اوسنيو فرهنګي څېړو لمانځنه يې کوله ...، خو له بده مرغه اوس د ړانده تعصب له امله ددغې ادبي معتبرې ټولنې دروازې تړل شوي او پر فعاليتونو يې بنديز لګېدلى دى .که څه هم اوس په هېواد کې دننه زموږ د يو شمېر وتلو فرهنګي شخصيتونو په مټ ځنې کلتوري ټولنې فعاليت کوي او نه پرېږدي چې په هېواد کې د ادب ډيوه مړه شي د هغوئ ګټورې هلې ځلې او نه ستړې کېدونکې هاند و هڅې ډېرې ارزښتناکې او د قدر وړ دي خو بيا هم د يو سرتاسري او هېوادشمول ادبي انجمن د نشتوالي تشه نشي ډکولاى .

ستاسو د پوښتنې د دوهمې برخې په هکله بايد ووايم چې په بهر کې هم زموږ ليکوالان او شاعران له يولړ ستونزو سره مخامخ دي چې تر زياته حده د هغوئ پر ادبي او تخليقي کارونو منفي اغيزه ښندي . مثلن له يار او دياره ليرې په مهاجرت او جلا وطنۍ کې ژوند کول د شاعر او ليکوال لپاره تر ټولو لويه ستونزه ده ،لومړى خو کلونه دوام کوي چې سړى وکولاى شي له پردئ ژبې ، پردي کلتور او پردي چاپېريال سره آشنا شي او ورته د زغملو وړ شي ، دوهم په غربت کې چېرته ده هغه د شاعر د الهام منبع چې شاعرته ووايي چې وليکه . ځرګنده خبره ده چې شاعر او ليکوال په بنسټيز ډول د خپل هېواد له پېښواودخپل ولس له ښو او بدو ، خوښيو او غمونو، ماتواو بريو څخه اغېزمن کيږي او په حقيقت کې همدغه خوښۍ او غمونه دي چې د قلم خاوند ليکلو ته رابولي . خو له دې ټولو ستونزو او کمښتونو سره سره زموږ جلا وطنه شاعر او ليکوال قلم پر ځمکه نه ږدي ، حوادثوته نه تسليميږي او ليکي ، شعر ليکي ، قصه ليکي رومان ليکي ،څېړنې کوي ،له بهرنيو ژبو څخه آثار ژباړي او د ادبي بېلابېلو ژانرونو د ودې په چاره کې ونډه اخلي او خپل رسالت تر سره کوي . همدا اوس موږ د يو زيات شمېر ارزښتناکوادبي آثارو لوستونکي يو چې زموږ ليکوالو او شاعرانو په جلاوطنۍ کې کښلي دي . هغه څه چې موږ ، زموږ د ژبې او ادب لاسمسورتيا او لا غوړېداته هيله من کوي ، له خپلې ژبې او ادب سره زموږ د ليکوالو او شاعرانو هغه مينه او علاقه ده چې هم د هېواد مېشته او هم په بهر کې د اوسيدونکو قلموالو په زړونو کې شته .

له تاسو نه ډیره مننه چې زما پوښتنو ته مو پوره اوکره ځوابونه راکړل، دتاسودبرمیال اوسرهسکې ژوندپه هیله .

له تاسو څخه هم د زړه له کومي مننه کوم .

په ډیر درنښت او ادبي مینه : انجنیر عبدالقادرمسعود

د ښاغلي کاوون صیب دشعري ټولګو څخه مو څو شعرونه غوره کړي دي، چې تاسودرنو ادب دوستانو ته یې په مینه ډالۍ کوم :

## زرغونې هیلې

**زما وطنه یه زما د شنو یادونو باغه**

**زما د سترو ارمانونو د دمې منزله**

**زما جنت ، زما دوزخ، زما ثواب او ګناه**

**زما سپرلی، زما خزان، زما د مینې ګله**

* ******************

**و مې لیدل چې په غمجن زړګي دې اور ولګېد**

**ومې لیدل چې له سینې نه دې لمبې پورته شوې**

**ومې لیدل چې د سکروټو په توفان لاهو شوې**

**ومې لیدل چې له لمنې دې ایرې پورته شوې**

* ******************

**ومې لیدل چې د آسمان لمنه ډکه شوله**

**ستا د سرو ګلو په رنګینو رژېدلو پاڼو**

**ومې لیدل چې د افق شونډې ګلګونې شولې**

**ستا د غوټیو په نیمزالو نښتېځلو پاڼو.**

****************** *

ومې ليدل چې خوشحاليو درنه کډه وکړه

ومې ليدل چې درکې وچ شول د خندا گلونه

ومې ليدل چې د خزان بادونو ورژول

هم د شينکيو سر درو هم د بيد ياگلونه.

****************** *

ومې ليدل چې په باغونو دې لمبې پورې شوې

ومې ليدل په چمنونو دې اورونه گډ شول

ومې ليدل چې په بلبلو دې ماتم ولگيد

ومې ليدل چې په گلبوټو دې لوونه گډ شول

****************** *

ومې ليدل چې توره شپه درباندې بره شوله

ومې ليدل چې ورېځو هير که سپين سبا درځنې

ومې ليدل چې سپوږمۍ پريوته او ستوري توي شول

ومې ليدل چې مرورہ شوه رڼا درځني .

* ******************

خو په وطنه په زما د شنو يادونو باغه

تل به سېلۍ ، تل به د ژمي تاړاکونه ، نه وي

ورېځې به ورکې شي، د لمر لونې به ونځېږي

تل به دا توره تروږمۍ، دا ماښامونه، نه وي

* ******************

شپه لا که هر څومره اوږده هم شي تلپاتې نه ده

وريځې که هر څومره تيارې وي جاوداني نه وي

د ساړه ژمي يخ وهلې او سړې سېلۍ به

تل د باغونو په رګونو کې رواني نه وي.

* ******************

د پسرلي ناوې به وسپړي د زلفو ولونه

په شنه لمنه به دې وتومبي غمي د ګلو

په سرو غاټولو به رنګينې شي شګنې تالې

په چمنونو کې به جوړه شي سيالي د ګلو

* ******************

باران به پاڅوي له خوبه د ډاګونو بوټي

وږمه به بيا سوو، سپېرو لښتو ته سا ورکړي

شبنم به پرېمينځي په مينه د غوټيو سترګې

لمر به د ګلو اننګيو ته ځلا ورکړي.

* ******************

په خړو دښتو به روان شي د رنګونو بهير

په سپېرو بوټو به رابره شي دګل سندره

په سرو غوټيو به جراوې شي د ونو غاړې

په باغ او راغ به راخپره شي د بلبل سندره.

* ******************

په تورو وربځو کې به تم شي د سکروټو باران

**د شپې په څنو کې به وچ شي د لمبو ګلونه**

**د تروږمۍ سینه به څیرې شي د لمر په توره**

**د شفق باغ کې به سمسور شي د سپېدو ګلونه.**

* ******************

**بیا به ګلان په وربل کېږدي کلیوالې نجونې**

**بیا به باغونو ته ستنې شي مسافرې مرغۍ**

**بیا به په غرونو کې غرڅې دمشکو ساه وکړي**

**بیا به په ځالو راخورې شي مهاجرې مرغۍ.**

****************** *

**بیا به د ګلو په سین ولامبي شډلې دښتې**

**بیا به خړوب شي په شنېلیو دا سپېره ډاګونه**

**بیا به د باغ په زړه کې وتوکي زرغونې هیلې**

**بیا به د تیږو ذهن ونازوي سره یادونه**

آلمان   دسمبر سال ۱۹۹۶

## د باد په کجاوه کې

ملا د باد په کجاوه کې راغی،

ملا د وریځو د اوښانو له کاروانه سره،

په ښار راننوته

کې یې،" خورجینه" او په

یو څو ناچلې،

له تاریخه غورزېدلې

راوړي ." کرنسۍ"

ملا ، کوڅه په کوڅه ګرځي له ښاريانو نه خندا را نيسي .

* ******************

ملا ټوپك غاړې ته واچاوه، جګړې ته ولاړ،

رنګوي، کوي،جامې" غزا"  ملا

ملا  په سپينو، نا زنينو ګوتو،

د خپل لنډي ټوپك ماشه راکاږي،

راوړی . په کاله باندې يرغل" کفر "  ملاد

******************

ملا په سپينه بادي اوښه باندې زين کېښوده،

ملاته ګوره :

،"شهيد"  شو، هم " غازي "  هم

هم سلامت،

بېرته تر کوره راغی .

ملا بزګر شو، په پټيو کې سکروټې کري

ملا د سرو لمبو ستری ټولوي .

او د لوګيو درمنده ته له خندا شين دی .

******************

ووت ." محرابه " ملا ياغي شو، له

ملا د خدای خونه په تيږو ولي،

ملا په سر د کاغذي ګلونو تاج راوړی،

ملا د تخت په طلايې مورګو لاسونه ايښي .

* ******************

ملا بې سته، بې پوښتنې د جنت په دروازه ننوت،

ملا ساقي شو،

ملا ويشي د کو ثرو،

پيالې،

ملا د حورو، له غوښنو ګلابې شونډو مچکې اخلي .

شمله بنګ و ترل ."سپېڅلې"  ملا په سپينه او

* ******************

. ملا باران شو

ملا، باد شو،

ملا، وورېده،

ملا د وريځو له ږندو سترګو نه و څڅېده .

او ملا سپين شو،

ملا سور شو،

ملا تور وخته،

ملا د تورې شپې څادر شو، په ښار وغوړيده،

او ملا سيورى شو،

خو نه پوهيږم،

چې د ښنتن، که د شيطان سېورى

د جانان سيورى، که د ځان سيورى .

(۱۳۷۱) کابل /۳/ ۱۵ )

## غلې نغمې

په بنو ستوري زنګوم داشنا کلي ته ځم

سترګې په لاره غوړوم، دآشنا کلي ته ځم

کلی خاموشه، ګودر شړ، کوڅې له دوده ډکې

رقیبه، کډې باروم، دآشنا کلي ته ځم

په شپو لړلي سرګردانه مسافر وختونه

ورو، ورو له سره تیروم ، دآشنا کلي ته ځم

ریبنې ریبنې ګریوان مې لاړو درقیب ګوتوکې

دننګ ځولۍ پیوندوم، دآشنا کلي ته ځم

بلبل له غږه بیګانه، ګل له بلبله پردی

غلې نغمې مې ژړوم دآشنا کلي ته ځم

فبروري / ۱۹۹۴ آلمان

## درنه ځمه

**درنه ځمه، مجبوري ده، درنه ځمه**

**په قسمت کې مې خواري ده درنه ځمه**

**ګوره ماته په غصه نه شې وطنه**

**راته پۍښه نا چاري ده درنه ځمه**

**کابل هوایي ډګر د غبرګولي شلمه(۱۳۷۱)**

## خدای پامان

درنه لاړم خدای پامان، زخمي کابله

زما روحه، زما ځان، زخمي کابله

درنه لاړم خوله زړه مي ويني څاڅي

تانه جار، تانه قربان، زخمي کابله

کابل هوايي ډګر د غبرګولي شلمه(۱۳۷۱)

## داغزو په سر

خپل رانه پردي شول، د پردو په سر

ګل راته اغزي شول، د اغزو په سر

نن ځومره راتيټ شولو اسمان په ما

ستوري مي ځلېږي، دبنو په سر

ژبې يې دسترګو راته وويل،

ژوند دی تېروه يې دلمبو په سر

تېر شولو بلبله د ګلونو وخت

اوس دې زندګي شوه د اغزو په سر

ګوره اشنا پسرلنی بنايست

خاندي يې ګلان، د اننګو په سر

خير دی که يې سترګې درواغجنې شوې

پالمه يې مينه، دليمو په سر

المان سپتمبر (۱۹۹۲)

## ساقي دګلو وخت دی

ساقي دګلووخت دی، یوه مسته پیاله راکه

له عقله مې پردی که،  په جنون مې مبتلا که

که  رڼا تیارې رڼا ډیوې دمیوو بلې که،

ماتم له سره واړوه، وختونه په خندا که

دزهد شپه سبا که درواغجن زاهد رسوا که

که  تورې نښې دتقوا دجام په لمبو پاکې،

څپې درڼا پورې که ، په تورو ماښامونو

دشپې زلفی جړاو که ، دسکروټو په لالونو.

*******************

په شنو دښتو راوختې لښکرې دسرو ګلو

ککې دوریځو سرې شوې دالماسو په لونلو

راخېژي له چمنه ، آوازونه، دبلبلو

غاټولو په سر ایښي رنګینه پیالې دملو

غونچې دګلو راوړې مستو پیغلو په وربلو

وږمې زلفې  خیشتې کړلې په عطرو دسنځلو

څپې شوې درنګونوپه تمامې دنیا پلنې

په سرو  غمیو ډکې شوې دشنه آسمان لمنې.

*******************

ساقي دګلو وخت دی ، ګلالې شول غاړې غرونه

درنګ په سین کې لامبي، یخ وهلي ګلکڅونه

دغره په دړه کاږي لمر ، دزرو انځورونه

په شنه سهار کې پرانیستل، غوټیو ګرېوانونه

په خړو دښتو اوري ، دیاقوتو بارانونه

سپرلي په غاړه راوړل دسنبلو امېلونه

په غره او په راغه کې ، د وږمې زلفې خورې دي

له ځمکې خوټیدلي بیا درنګ اوبوی چینې دي

*******************

ساقي دګلووخت دی ، بیا دوران شو دمستیو

په مړو بوټو کې وچلیده سا د پسرلیو

پیغام دژوند راوړی غزلبولو توتکیو

ددښتې ناوې کیښودل خالونه د کیږدیو

قالینې غوړیدلي ، په ډاګونو، په غونډیو

صهبا په تږیو وېشي خورې شونډې د شهیو

دمشکو عطر وشیندل په غرونو کې هوسیو

اوږی دغوټۍ پورې شوې د ښانګو په غړیو.

*******************

ساقي دګلو وخت دی راچې پورته کړو جامونه

په چیغو کړو روښانه ، دا خاموشه ماښامونه

دتورې تروږمۍ په زړه کې بل کړو سره اورونه

د درد په ستنه وګنډو، د زړونو پرهرونه

دشپې زلفو کې وټومبو، دسپین سهار ګلونه

د باغ له سترګو ووینځو ، د یخ ژمي خوبونه

راووځو له ځانه او ور ګډ شوو په جهان کې

ځان ووینو له سره بیا په سترګو د جانان کې.

*******************

ساقي د ګلو وخت دی ، بهارونه لا ژوندي دي

دتاك مړاوو رګونو کې، اورونه لا ژوندي دي

دمینې درد آباد کې، فریادونه لا ژوندي دي

دسترګو په چینو کې، دریابونه لا ژوندي دي

لا ماتې ارادې نه دي ،هوډونه لا ژوندي دي

لا سوي پتنګان نه دي ، اورونه لا ژوندي دي

دا باغ به بیا خړوب شي د بلبلو په سندرو

دا ونې به سینګار شي، درنا په مرغلرو

وری (۱۳۷۰)کابل

## دیقین په لټه

کې مې لوستلي "سیپارو" ستا دسترګو

، " آیا تونه " دتلپاتې خوږې مینې

کړل " قضا" څه پرواده که لمونځونه مې

سترې نه شوې "ذکر" یا مې شوندې ستا په

سپیڅلی درته ساتم "مسجد "دخپل زړه

بلوم پکې داوښکو څراغونه.

****************** *

ونیوه بتانو، دې " کعبه" چې دمخ

له تندي نه مې زاړه خاپونه لاړل

زه خو هسې دسجدو سوداګر نه يم

نه جنت غواړم نه سره دوزخ ته ژاړم

ماته نه کړم "طهورو " به په "روژه " خو

"زکاتونه" که نصيب مې شول دشونډو

, دکوثرو دپيالو په تمه نه يم

بس يوازې يو ديدن درځني غواړم

خپله ورکه لټوم ستا په پيدا کې

چينې ته بيايم . "يقين" د تږې " شك " د

معبده مې په خپل زړه کې جوړه کړې

پکې ستايمه دميني شنه يادونه .

*******************

د ټول عمر عبادت به ترينه ځارکړم

که يوه شپه مې منلی په ګناه کړې

له رنګينو جنتونو نه به تير شم

که يوه پياله سکروټې راته راکړې

ددنيا او دعقبا پروا مې نشته

ما دعشق په پښو کې توی کړل ثوابونه .

دسمبر (١٩٩٨) آلمان

کاليزه

په هغه توره  اوتبجنه شپه کې ،

چې تازمونږ له کلي کډه وکړه

ما دې دتلو لاره  ، په اوښکو با ندې وونځله .

او ستا  دپله خاورې مې  ،

په خپلو سترګو باندې ومو ښلې .

**************** ** *

په هغه توره او تبجنه شپه کې ،

چې تا زمونږ له کلي کډه وکړه ،

يوه ترخه او رژوونکې سيلى

پوله په پوله او کوڅه په کوڅه وګرځيده ،

اودخندا ګلان يې ورژول .

له هغې شپې نه بيا تراوسه پورې ،

زمونږ دکلي دبامونو په سر  ،

څوک کشمالي نه کر ي ،

او دويالې په غاړه ،

ويلني نه تو کيږى ،

او دګودر  دشنې جلګې له پاسه ،

له سرو منګيو نه يوازې  څو کودي پاتې دي .

****************** *

له هغې تورې او تبجنې شپې نه ،

چې پکې تا له کلي کډه وکړه

دادی کلونه تیر شول

اودزمان دکتاب ډیرې پاڼې واوښتلې ،

نه بیا دکلي دبامونو په سر ،

چا کشمالي وکړل

نه دویالو په غاړه ،

ویلیني وټوکیدل

او نه ګودر بیا په منګیو ، پټ شو .

****************** *

په هغه توره او تبجنه شپه کې ،

چې ته له کلي لاړې

خندا له کلي لاړه .

ګلان له کلي لاړل

او اوس دکلي په آسمان کې ستوری نه ځلیږي ،

سپوږمۍ دوریځو تور ټیکری اغوستی

آسمان له ځمکې مرور ، ځمکه له ستورو ځنې ،

وږمه له باغه بیګانه ،

ګل ،

له بلبله ،

پردی .

هره شیبه  اوهره ورځ  ده دماتم کالیزه  ،

دغم کالیزه  ،

دستم ،

کالیزه .

کابل، ( ۱۵  / ۴ / ۱۳۶۶)

## د ماښامونو په دار

وس راباندې وکوه،ګیله مې په خوله  نه راځي

دود مې که اسمانه خو شکوه مې په خوله نه راځي

مینې مې د ژبې په سر نوم د یار کرلی دی

څه وکړم زاهده چې توبه مې په خوله نه راځي

سر به لکه شمه د لمبو په بیه ورکړمه

پت به د عشق وساتم، پلمه مې په خوله نه راځي

هسې یې د سپینې خولې په تمه تومتې شومه

مست یې په کتویمه، بوسه مې په خوله نه راځي

ما یې د تسبو په لړ کې کفر د ابلیس ولید

موړ یې له سجدونه شوم، کعبه مې په خوله نه راځي

زه دسجدو نه یم، زه دسر دتیټیدو نه یم

وخته!  د تسلیم توره قصه مې په خوله نه راځي

هر توری زخمي دی، هر غزل د وینو رنګ لري

هیرې مې سندری شوې، تپه مې په خوله نه راځي

شیخه درواغجنه د جنت د پرښتو غله

تا چې دلته وکول، هغه مې په خوله نه راځي

ته خو به مې غږ د ماښامونو په دار پورته کړې

زه به چیغه چیغه شم، روژه مې په خوله نه راځي .

۱۳۷۱ د ۱۸غبرګولي کابل،

## مانۍ که جونګړه؟

نوره دې نه یادوم ،

نور دې دکور له مخې نه تیریږم

نور دې کوڅه په اوښکو نه وینځمه،

نوردې دکلي دچنار په ډډه نوم نه لیکم ،

نور دې دپله خاورې په سترګو باندې نه موښمه

اونور دې لاره دګودر نه څارم .

******************

آرمان، آرمان هغه خوږې د انتظار شپې مې،

چې ستا د زلفو په دار و ځړیدې.

آرمان، آرمان د هیلو تاندې نا زنینې غوټۍ

چې ستا د مینې په اور وسوزېدې.

آرمان، آرمان هغه د کلي د سنځلو ګلان

چې د نا پایه پسرلي په سهارونو کې مې

ستا د راتلو په لاره وغوړول .

اوله رنګينو اميدونو نه مې،

تا ته د زړه په سر مانۍ جوړه کړه،

خو ته يوازې د يوې شېبې، يوازې د يوې،

لنډې شېبې له پاره

زما د هيلو رنګينه ما نۍ ته ننوتې ،

بيا دې په سرو منګلو ،

زما د زړه په وينو،

زما د هيلو د ما نۍ په ديواله وليکل،

چې دا جونګړه خو زما د اوسېدلو نده

او بيا د تل له پاره،

زما د زړه له کوره ووتلې.

******************

نوره دې نه يادوم،

نور دې د کور له مخې نه تېرېږم ،

نور دې کوڅه په اوښکو نه وينځمه ،

نور دې د کلي د چنار ،

په ډډه،

نوم،

نه ليکم .

کابل ۱۳ ۴/۱۹/۷۰

# راشه پسرلیه

راشه پسرلیه ، دغوټیو له باران سره

سېل  د رنګ او بوی سره دمشکو له کاروان سره

راشه دغوټۍ له سترګو پرېمينځه رانجه دخوب

راشه د زخمي زخمي غاټولو له درمان سره

راشه چې جړاو شي په غميو، نښتېځلی، باغ

راشه پسرليه، دګلونو له توفان سره

راشه چې دونو په ښاخونو پاڼې وناڅي

تراڼې ووايې، دغرو ممانې وناڅي. باد

****************** * *

ژمی دی خفه نه شي دګلودغونچو په ځای

مونږ درته په لاره زخمي زړونه غوړولي دي

خير که وچکالي ده نه شبنم شته نه باران اوري

ستا دراتلو لارې مو په اوښکو ، پرېمينځلي دي

اور مو په سر وړی، خو ډيوې مو لګولي دي

زړه د تروږميو کې مو ستوري ځلولي دي

زموږ کلي ته لمر راوله !راشه پسرليه

بيرته يې پخلا که، د عمرو مرور راوله.

* ****************** *

راشه چې باغونه مو ساړه ژمي وهلي دي

راشه چې ګلونه دخزان سيلۍ زپلي دي

راشه چې دبوټو په رګونو کې سا وچه ده

راشه چې غوټیو په سروونو کې لمبلي دي

دښتې سوزيدلي، چمنونه رژيدلي دي

کربنې دقسمت يې په لمبو راته ليکلي دي

بس دی د اورونو ، دسوځونو کتاب واړوه

بس دی پسرلیه، دغمونو کتاب واړوه.

* ****************** *

څه دی بهار څه دی، چې رڼا دمستۍ نه لري

سا دمستۍ نه لري ، صهبا دمستۍ نه لري

شور دمینې نه لري، سور اور دمینې نه لري

ځا ځکو دشبنمو کې ځلا دمستۍ نه لري

څه دی بهار څه دی چې  موسکا دغوټۍ وربېي

څه دی بهار څه دی چې خندا دمسنۍ نه لري

څه دی بهار څه دی چې ويدې نغمې نه پاڅوي

تاندې غوټۍ ويښې نه کړي، شنې ورمې نه پاڅوي.

* ****************** *

راشه پسرليه، چې دلمر ګلونه وخاندي

توره شپه سبا شي، دسحر ګلونه وخاندي

باغ په خندا سر شي، لر او بر ګلونه وخاندي

راغ غونچې ،غونچې شي پيغامبر ګلونه وخاندي

بيا دپيغلو نجونو په ټټر ګلونه وخاندي

غر په ګلو پټ شي په کمر ګلونه وخاندي

بل شي په سپېرو دښتو، دګلو ځراغونه بيا

پورته شي ،رڼانده دغاټولو بېرغونه بيا.

* ***************** *

راشه په سپېرو دښتو کې سا د ژوندون وکره

راشه په سرو زړونو کې اور د جنون وکره

راشه بيا روښانه که دمينې دمزلونو لار

راشه د ليلي زړه کې وفا دمجنون وکره

راشه ترې تالې دوږمې په ميو مستې که

راشه د ماښام په دښته، سپين سباوون وکره

راشه پسرليه، باغ ته ناوې دګل راوله

ساندې تراني که ، وزرماتی بلبل راوله.

***************** * *

ترکې دبګرام درنه جامونه دسوما غواړي

غواړي ،نڅا شورغواړي،شررغواړي، نغمې غواړي

پيغلې دبخدي درنه دردونوته دوا غواړي

بيا په نو بهار کې دبهار مسته خندا غواړي

پريږده له قفسه، ښايسته بلبلې والوزي

دا زخمي غوټۍ له تا نه شونډې دموسکا غواړي

زيب يې د پيکيو شه، ګلاب دګريوانه يې شه

سوز يې د سندرو شه، رباب د زنګانه يې شه.

* ****************** *

بیا به دا خزان، خزان وختونه بهارونه شي

بیا به دا شډل ، شډل ډاګونه چمنونه شي

بیا به دا اغزي، اغزي باغونه سره ګلونه شي

بیا به په رنګینو ګلو، ښکلي وربلونه شي

بیا به غم وهلي ماښامونه، سهارونه شي

بیا به دسپین غره غاړې ته ستوري امېلونه شي

بیا به دکابل لمنه ډکه په ګلونه شي

بیا به د (بابا) پګړی جړاوه په لعلونو شي.

* ****************** *

تا که پسرلیه ، دګلونو ګیډی راوړلې

تا که د وږمي په وزر تاندې غوټۍ راوړلې

تا که درنښا ناوې له تورو شپو راوایسته

تا که دباران د رڼو څاڅکو ډولۍ راوړلې

تا که په خاموشو ماښامونو کې شور وکړه

تا که زخمي زړونو ته د مینې پټۍ راوړلې

ته به ابدي شې ، ته به پاتې شې په زړونو کې

ته به د ژوند سا شې ، په ډاګونو ، په باغونو کې.

۱۹۹۹/۲۰/ آلمان ، ۲

## دسکروټو په اقلیم کې

**د سکروټو په اقلیم کې، ګلان نشته**

**په خوږ لن کې غاټول کله زرغونېږي**

**ګله! بل چېرته یې څاره د وږمې لار**

**سیلۍ ستا په پسته ژبه نه پوهېږي**

## دوطن بوی

له بیدیا نه راجګیـــــــــــرې دچمن بوی

دګــــــل مخـــــــــو پسرلیو، دبدن بوی

ما دسوې زړه کړکۍ کړه ورته خلا صه

چــــاپـــــه زلفو کې راوړی دوطن بوی

## **یوه هیله**

**تورې خاورې به یې پورې کړم په سترګو**

**که قسمت یو ځلې بیا وطن ته بوتلم**

**خپلې اوښکې به یې پرخه کړم د ګلو**

**که کوم باد هغه ښایسته چمن ته بوتلم .**

www.ayenda.org